AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۷/۲۵

# هرخه په مخه سپـلابـونـو وېوړل

نښترې ژاړي چـمنـونـه سپـلابـونـو وېوړل
پـدې دنـيـا مې جـنـتـونـه سپلابونو وېوړل

بلبلان چيغي وهي چيغي وهي چيغي وهي
جدايي گرانه ده گلونه سپلابونو وېوړل

هغه چي قد به يې نښتر سره سيالي كوله
نن هغه دنگ دنگ قامتونه سپلابونو وېوړل

خدايه زموږ ښادي نو ولي هيڅ بي غمه نه ده!؟
لـه ارمـانـونـو ډک ډک زړونه سپلابونو وېوړل

دلته پر ځمكه يو جنت و چي پارون نومېده
پکي د حـورو محلـونـه سپلابـونـو وېـوړل

باور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ